REFUGEES INTO BUSINESS

Cover design by Morse-Brown Design

© The Prince's Trust and the Refugee Council 2006

دا معلومات د کډوالو کونسل (Refugee Council) لهٔ پاره د پرنس بسپنې (The Prince’s Trust) لهٔ اړخه لیکلي شوي دي او دا بس د پیل کوونې نقطه ده. خپلواکه قانوني او مالي وړاندیز باید تر لاسه کړی شي. چاپ کوونکی هېڅ ډول قانوني مسؤلیت پر غاړه نهٔ اخلي. د پرنس بسپنه او د کډوالو کونسل د خرګند شویو معلوماتو د سم والي پهٔ اړه هېڅ ډول مسؤلیت پر غاړه نهٔ اخلي.

له خپلو ملګرو، کورنۍ او د خپلې ټولنې غړو سره خبرې کولو سره تاسو کولی شئ چې دا ډول مرسته تر لاسه کړئ:

- **خپلې پیاوړتیاوې و پېژنئ:** لوسي، ماریا ډېره ښه پیژني. د لوسي غبرګون ماریا د دې جوګه کړي چې پوهه شي آیا هغه اړتیا لرونکي هنرونه لري که نه.
- **پهٔ رضاکارانه توګه د کار کولو مواقع معلومول:** پهٔ رستورانت کښې کار کولو سره به ماریا ته دا موقع پهٔ لاس ورشي چې فکر وکړي د خپلې کافې چلولو لهٔ پاره څهٔ ته اړتیا وي.
- **خپل فکر ازمویل:** د خپل کاروباري فکر پهٔ اړه د لوسي سره خبرې کولو سره، ماریا ته ړومبی فکر په لاس ورشي چې آیا پهٔ دې سیمې کښې کافې ته اړتیا شته که نه.
- **د پیل کوونې ملاتړ پهٔ اړه معلومات تر لاسه کول:** ماریا د جېمز څخه تپوس کولی شي چې هغوی خپل کاروبار څنګه پیل کړی وو او هغوی خپل پور څنګه تر لاسه کړی وو. دا د دې لهٔ پاره د پیل کوونې ملاتړ پهٔ اړه معلومات تر لاسه کولو لهٔ پاره یوه ګټوره لاره ده.
- **ښوونکی موندل:** ماریا د جېمز څخه ، او یا هم د سوسن له ترور او تره نه غوښتلی شي چې آیا لهٔ دوی څخه یو هغوی به دې ته د ښوونې ملاتړ وړاندې کولو ته چمتو وي، پهٔ دې چې هغوی خپل کاروبار په خپله پیل کړی دی.

| څهٔ کول پهٔ کار دي | څهٔ نهٔ دي کول پهٔ کار |
|---|---|
| د ملګرو، کورنۍ او ټولنې څخه تر لاسه کېدونکی ټول ملاتړ ولیکئ. همدا رنګه د پیل کوونې ملاتړ لهٔ پاره تنظیمونو سره اړیکې ونیسئ او د کاروباري سلاکار لهٔ پاره غوښتنه وکړئ. | یوازې پهٔ ملګرو، کورنۍ او ټولنې باندې اسره مه کوئ. کېدی شي چې هغوی ټول سم معلومات و نهٔ لري او دا ډول هغوی مسؤل نهٔ شي ګرزېدلی که چېرې حالات قابو نه و وزي. مسلکي وړاندیز او د مینځګړي ملاتړ پهٔ مشکلو حالاتو کښې ډېر ګټور کېدلی شي. |

# ګام 10: د مرستې لۀ پاره نورې سرچینې

د تاسو کورنۍ، ملګري او ټولنه د مرستې لۀ پاره ښې سرچینې دي. دوی ستاسو پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې تر بل هر چا نه ښې پېژني. د دوی ملاتړ، چې د پیل کوونې تنظیمونو لۀ اړخه مسلکي مشورو سره یو ځای کړی شي، به تاسو د دې جوګه کړي چې وروستی پرېکړه وکړی شئ چې که خپل ځاني کاروبار تاسو پر مخ بیولو لپاره تیار یاست.

**ماریا او لوسي، د انګولا څخه کډوال**

ماریا او لوسي ملګرې دي. دواړه لۀ انګولا څخه دي او اوس د مانچسټر پۀ یوه سیمه کښې استوګنه کوي. ماریا غواړي چې کافې (رستورانت) پرانیزي او دوی پۀ دې خبرې اترې کوي چې هغې له څۀ کول پۀ کار دي...

**لوسي:** دا ډېر ښۀ فکر دی ماریا! ستا پاخه کړي شوي خواړه خو تل ډېر خوندور وي! او تاسو د خلکو سره پۀ اړیکو کښې هم ډېره ښه یاست. پۀ دې سیمه کښې به کافې ډېره ښه وچلېږي. دا به ډېر خوند وکړي چې داسې یو ځای وي چېرته چې زمونږ ځینې ملګرې راغونډېدلی شي، پۀ خاصه توګه ځوانې میندې.

**ماریا:** د تاسو پۀ فکر کښې زۀ د پیل کولو لۀ پاره پیسې چېرته نه تر لاسه کولی شم؟

**لوسي:** زما تربور جېمز ځان ته خپل کاروبار پیل کړی دی. کېدی شي هغوی وکړی شي پۀ دې لړ کښې مرسته درسره وکړي.

**ماریا:** دا خو رښتیا هم ډېره ښه خبره ده. زه به همدا اوس لۀ هغۀ څخه تپوس وکړم.
لوسي: زۀ یو بل فکر هم لرم ماریا: دوه اوونۍ وړاندې د سوزان لۀ خوا، چې زما ملګرې ده، د شپې ډوډۍ ته بللې شوي ومه. مونږ پۀ اولډ ټرافورډ کښې هغه زبردست افریقایي-کریبیان رستورانت ته ولاړو. هغه د سوزان د تیندار او ترۀ دی. خوښه دې نۀ ده چې هغوی نه غوښتنه وکړې چې د یو څو اوونیو د پاره له هغوی سره بې پیسو کار وکړې او دا دول تاسو ته به معلومه شي چې کافي پرانیستل تاسو لۀ پاره ښۀ دي که نه؟ زۀ تاسو د سوزان سره پۀ تړاؤ کښې راوستلی شم.

**ماریا:** دا خو ډېر ښۀ فکر دی! کېدی شي هغوی ماته د ځینې انګولائي خواړو د پخولو اجازه هم راکړي چې وګورم خلک هغه خوښوي که نه. ستا د مرستې نه ډېره ډېره مننه، لوسي. ستا سره خبرې کول ډېر ګټور وو.

## په دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

**د پيل کوونې ملاتړ**

- لاربنود 12 – د مرستې سرچينې – د پيل کوونې د ملاتړ د تنظيمونو فهرست لري www.refugeesintobusiness.org.uk/guide

**يو تاکلې پر نخبنه شوي تولګې ته مرستې:**

- د پرنس بسپنه (The Prince's Trust) د داسې زلمو وګړو سره مرسته کوي چې د 18 – 30 کلونو پورې عمر ئې وي او وزګار وي او غواړي کاروبار پيل کړي www.princes-trust.org.uk
- Shell LiveWire د 16 – 30 کلونو پورې عمر واله زلمي وګړي هڅوي چې خپل کاروبار پيل کړي او ورله وده ورکړي www.shell-livewire.org
- The Prime Initiative يو داسې ملي تنظيم دی چې د 50 کلونو نه ډېر عمر وګړو سره د دوی په کاروبار پيل کولو کښې مرسته کوي www.primeinitiative.org.uk

**د تولو لهٔ پاره مرستې:**

- ځائي کاروباري اړيکې (Business Links) www.businesslink.gov.uk
- ځائي کاروباري اژانسونه (Local Enterprise Agencies - LEAs) www.nfea.com
- ځائي د تجارت خونه (Chamber of Commerce) www.britishchambers.org.uk
- د کاروبار رضاکارانه ښوونې پروګرام (Business Volunteer Mentoring (BVM) Programme) www.bvm.org.uk

**د کاروباري ښوونکي او سلاکار تر مینځ توپیر**
کاروباري سلاکار یو مسلکي کس دی چې ځانګړی وړاندیز ورکوي. کاروباري ښوونکی اکثر وخت یو په خپله خوښه کارکونکی دی چې عمومي کاروباري لارښوونه وړاندې کوي او د مفکورو او ستونزو په اړه در سره خبرې اترې کوي.

## کاروباري ښوونکی

کاروباري ښوونکی هغه کس ته پهٔ باقاعدګۍ سره کاروباري او ځاني لارښوونه وړاندې کوي څوک چې کاروبار پیل کوي. د ښوونې مقصد دا وي چې د تاسو سره مرسته وکړی شي چې هغه یو دوامداره او بریالی کاروبار پیل کړي. کاروباري ښوونکي پهٔ عمومي توګه باندې ډېر مضبوط کاروباري صلاحیت او تجربه لري.

کاروباري ښوونکی د یوې منل شوي مودې لهٔ پاره، کومه چې پهٔ عمومي توګه باندې د شپږ میاشتو څخه تر دوه کلونو پورې وي، ملاتړ وړاندې کوي چې په بشپړ ډول سره خصوصی او پټ وی.

- ← ځینې تنظیمونه به د پیل کوونې پیکج وړاندې کوي پهٔ کوم کښې چې کاروباري ښوونه هم شامله وي. د دغو پیکجونو پهٔ اړه تفصیلات تر لاسه کړئ.
- ← زیاتره کاروباري ښوونکي خپل خدمتونه پهٔ رضاکارانه (وړیا) بسنټ باندې وړاندې کوي، خو تاسو ته پهٔ کار دي چې پهٔ دې لړ کښې د وړاندې نه پوښتنه وکړئ.

# ګام 9: د کاروبار پیل کولو لهٔ پاره مسلکي ملاتړ تر لاسه کول

پهٔ برتانیه کښې ډېر داسې تنظیمونه شته چې هغه د کاروبار پیل کولو کې ستاسو سره مرسته کولای شي، اکثر وخت مشوره ورکوی او هم داسې سلاکاران او ښوونکي چې د کاروبار پیل کولو لهٔ پاره خلکو ته یو پهٔ یو ملاتړ وړاندې کوي. مسلکي مشوره د طبیعی ملاتړ یوه سرچینه ده چې کولی شي له تاسو سره مرسته وکړی تر څو دا فیصله وکړی چې د کاروبار پیل کول ستاسو له پاره مناسب دی او څه ډول یې پر مخ بوزی.

**د پیل کوونې د ملاتړ تنظیمونه**

د پیل کوونې د ملاتړ وړاندې کولو لهٔ پاره حکومتي، شخصي او خبریه تنظیمونه شته، چې دا وړاندې کوی:

- وړاندیز او لارښوونه چې کاروبار به څنګه پیل کړئ
- د کاروبار د روزنې کورسونه
- کاروباري پلان (طرح) لیکلو کښې مرسته
- د اړیکو نیولو مواقعو پهٔ اړه معلومات

ځینې خدمتونه وړیا وي. د ځینو نورو لهٔ پاره اړ یئ چې پیسې ورکړي. ځان خبر کړی چې ستاسو په منطقه کښې کوم شته دی.

**کاروباري سلاکار**

کاروباري سلاکار پهٔ داسې موضعوګانو باندې وړاندیز ورکوي، لکه د کاروباري پلان لیکنه، قانوني خبرې یا خپل مالي وسائلو انتظام کوونه. زیاتره سلاکاران مسلکي روزنې تر لاسه کړې وي او خورا ډېره کاروباري تجربه لري. دوی د ځانګړیو ستونزو د حل کولو پهٔ لړ کښې مرسته ور کولی شي او پهٔ مشکلو حالاتو کښې مشوره ورکولی شي. سلاکاران د یو ځل لهٔ پاره یا د اوږدې مودې لهٔ پاره پهٔ کار کښې راوستلی شي. کېدی شي د دې خدمت لهٔ پاره اړ وئ چې پیسې ورکړي. تاسو د کاروباري اړیکه (Business Link) ویب سایټ باندې یو ښکته کېدونکی لارښود موندلی شئ چې نوم ئې دی'کاروباري سلاکار خوښ کړئ او انتظام ئې کړئ'. (لاندې وګوری)

**د شريعت سره سم د تنظيمونو / بانکونو مثالونه**

د بريتانيې اسلامي بانک (Islamic Bank of Britain) د شريعت سره سم دی..

HSBC پۀ 2003 ميلادي کال کښې خپل امانه څانګه (Amanah division) پرانيستله چې مسلمانانو ته داسې شيانو ته لکه د کور لۀ پاره مالي مرسته او ځانې اکاؤنټونه ته رسېدنه وړاندې کړي. اوس دا بانک پۀ دې باندې غور کوي چې څنګه دوی اسلامي کاروباريانو ته ملاتړ وړاندې کولی شي.

د پرنس بسپنې (The Prince's Trust) د شريعت د يو نامتو پوهاند څخه غوښتلې دي چې زلمو مسلمانانو ته د بسپنې د پور د بېرته ورکولو پۀ اړه وړانديز وړاندې کړي. نو داسې فتوی ور کړه شوه چې بسپنه کومې پيسې اخلې هغه «اداراتي خرڅو پۀ لړ کښې راځي او هغه سود نۀ دی».

**پۀ دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ**

- FSA (د مالي خدمتونو واکمنې (Financial Services Authority) وېبځای د بنسټيز بانک اکاؤنټ پۀ اړه وړانديز ورکوي www.fsa.gov.uk
- د ښاريانو د مشورې بيورو (Citizens Advice Bureau) www.citizensadvice.org.uk
- د بريتانيې اسلامي بانک (Islamic Bank of Britain) www.islamic-bank.com
- HSBC Amanah پۀ اړه د نورو معلوماتو لۀ پاره دلته لاړ شئ www.hsbcamanah.com
- د پيل کوونې لارښود 2 – د کاروبار پيل کوونه – د کاروبار پيل کولو لۀ پاره پور تر لاسه کولو پۀ ګټور معلومات وړاندې کوي چې دا پور څنګه او چېرته نه تر لاسه کېدلی شي. www.refugeesintobusiness.org.uk/guide
- د پيل کوونې لارښود 12 – د مرستې سرچينې – د مالي مرستو فهرست لري www.refugeesintobusiness.org.uk/guide

© The Prince's Trust and the Refugee Council 2006

کېدی شي چې بانکونه د تاسو د اعتبار تاریخ و نۀ کتلی شي پۀ دې چې تاسو د یو بل هېواد څخه راغلي یاست. هم لۀ دې کبله، د بانک **روان اکاؤنټ** کېدی شي چې مشکل وي. که چېرې بانک د روان اکاؤنټ پـه اړه د تاسو غوښتنلیک رد کړي، نو د **یو بنسټیز بانک اکاؤنټ** لۀ پاره غوښتنه وکړئ.

که چیرې تاسو د بانک اکاونټ په پرانیستلو کې څه ډول ستونزه هم لري، نو له ځایي د کډوالو له تنظیم سره اړیکي ونیسي، او یا هم د ښاریانو د مشورې له دفتر (Citizens Advice Bureau) سره،کوم چې په دې اړه ډیر زیات کار کړی دی.د مرستي نوری سرچینی په دې بلـه پاڼه کی شته .

**اسلامي عقیده او مالي مرسته**

که تاسو مسلمان یاست، نو تاسو له باید د خپل کاروبار پیل کولو نه وړاندې د'ربیا (سود)' پۀ اړه فکر کول پۀ کار وي. ربیا د سود ورکولو او اخیستلو ته وائي. دا د شریعت قانون لاندې جائز نۀ دی، پۀ دې چې دا یو داسې خطر دی چې ورته غرار وېئل شي.

تاسو دا ستونزه څنګه حل کولی شئ؟

- ← د ملګرو، کورنۍ یا د خپلې ټولنې د غړو څخه وړاندیز تر لاسه کړئ، چا چې خپل کاروبارونه پیل کړي وي
- ← ځینې بانکونه او تنظیمونه کېدی شي چې تاسو سره مرسته وکړی شي پۀ دې چې هغوی خپل کار د شریعت قانون سره سم کړی وي

# گام 8: خپلې مالي سرچينې تنظيمول

### د بانک اکاؤنټونه

که تاسو غواړئ چي پهٔ بانک کښي اکاؤنټ پرانيزئ، نو تاسو له پهٔ کار دي چي خپله پيژندنه ثابته کړئ بانک به ستاسو د پاسپورټ (passport) کتل غواړي، يا دستاسو د موټر چلووني لائسنس يا بيا د هوسائي خدمت بل (لکه د برېښنا يا گېس بل).

که تاسو دا اسناد نهٔ لرئ نو تاسو پوښتنه وکړي چي که چيري بانک بل کوم داسي د پيژندني پاڼه مني، لکه چي د تاسو سره رسمي يادابنت ، د پاتي کېدلو لهٔ پاره اجازه (Leave to Remain) او يا هم د کورنيو چارو د وزارت نه نور اسناد.

کيداى شي چي دا ستاسو له پاره آسانه وي چې يو د بانک **د روان اکاونټ** (current account) پر ځاى د بانک **يو بنسټيز اکاونټ** (basic bank account) پرانيزي. د دواړو ډول اکاؤنټونو سره، تاسو کولاي شي چي:

- د نغدو کارت (cash card) د نغد ماشينونو (cash machines) سره پهٔ کار کښي راوستلوپاره
- ، د پيسو ورکول او بلونه هم ادا کول
- خو د روان اکاؤنټ پهٔ حال کښي تاسو يوازې يو موافقه شوی اور ډرافټ (overdraft) اخيستلی شئ:

*اور ډرافټ يوه داسي اسانتيا ده د کومې تر مخ چي تاسو د هغي ډېري پيسي خرڅ کولی شئ څومره مو چي پهٔ خپل اکاؤنټ کښي پرتې وي. که چيرې داسي پيښ شي نو پهٔ عمومي توګه باندې بانک به تاسو نه په دي اړه سود اخلي، او ځيني وختونو کښې نور فيس هم (دمالي خدمتونو واکمنې (Financial Services Authority (FSA), 2006)*

بانکونه کېدى شي چي تاسو ته **د بنسټيز اکاؤنټ** سره د 10 برتانوي پاؤنډونو څخه ډېر اور ډرافټ در نهٔ کړي. بانک به غواړي چي ستاسو د اعتبار تاريخ وګوري او د دی مالوماتو په بنياد به دا فيصله کوی چي تاسو ته د بانک **روان اکاونټ** درکړی او که پور. دوی به دا وګوري چي:

- بېلابېل قسمونه اکاؤنټونه چي تاسو لرل او
- هر ډول پور چي ممکن په تاسو باندې کېدلی شي.

## په دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

- ← د کار کوونې د مالیې د باور د مرستې ټېلیفوني کرښه (Working Tax Credit Helpline) (انګلینډ، ویلز، سکاټلینډ) 0845 300 3900 \ (قطبي ائرلینډ) 0845 603 2000
- ← Sure Start د حکومت لهٔ اړخه یو داسې پروګرام دی چې هر ماشوم ته ښهٔ پیل کوونه ور کړی شي. دا پهٔ بریتانیې کښې د ماشوم د پاملرنې پهٔ اړه ګټور معلومات لري او داسې معلومات هم لري چې د خرڅونو پهٔ اړه مرسته څنګه تر لاسه کولی شئ www.surestart.gov.uk او یا هم www.childcarelink.gov.uk
- ← د یوازني مور یا پلار کورنۍ (One Parent Families)، چې د یوازی مور یا پلار سره په مرسته کې ځانګرتیا لري ، www.helpdesk.oneparentfamilies.org.uk (انګلیډ او ولز) www.opfs.org.uk (سکاټلنډ)
- ← Gingerbread د یوازی مور یا پلار کورنیو له پاره یوه شبکه پر مخ بیایي www.gingerbread.org.uk
- ← د ورځنۍ پاملرنې بسپنه (Daycare Trust) د ماشوم د پاملرنې لهٔ پاره ملي خبریه موسسه ده. د دوی ویب سایټ به تاسو ته د ماشوم د پاملرنې پهٔ اړه نور معلومات تر لاسه کولو کښې مرسته درکړي www.daycaretrust.org.uk
- ← د ورځني وړکتونونو ملي سازمان (National Day Nurseries Association - NDNA) یو ملي خبریه موسسه ده کومه چې دا مقصد لري چې د ماشومانو پهٔ لومړنیو کلونو کښې پرمختیا او زده کړې ته وده ورکړی شي www.ndna.org.uk
- ← د ماشوم د پاملرنې ملي سازمان (National Childminding Association - NCMA) په انګلېنډ او ویلز کښې د ثبت شویو د ماشوم پاملرونکو لهٔ پاره یوه ملي خبریه موسسه او د غړیتوب ورکولو تنظیم دی. www.ncma.org.uk
- ← د ښوونځي نه مخکې د زده کړې یووالی (The Pre-school Learning Alliance) یوه داسې د زده کړې خبریه موسسه ده چې د ړومبنیو کلونو پهٔ اړه ځانګرتیا لري. www.pre-school.org.uk

# ګام 7: د کوچنيانو د پاملرنې پۀ اړه انتظام کول

که تاسو د خپلو ماشومانو پاملرنه پۀ خپله کوئ، او د کاروبار پيل په اړه هم سوچ کوي، نو تاسو به غواړئ چې د ماشومانو د پاملرنې داسې پروګرام جوړ کړئ چې ستاسو ورسره ډاډه او خوښ يي .

ځيني وړانديزونه دا دي:

- ملګري او يا د کورنی غړي ، کوم چې ستاسو د ماشومانو پاملرنه پۀ غاړه اخيستلی شي.
- ځائي د ماشومانو د پاملرنې وړاندې کوونکي: که تاسو پۀ دې اړه اندېښنه لرئ چې خپل ماشوم د داسې خلکو سره پرېږدئ کوم چې تاسو نۀ پېژنئ، نو تاسو کولی شئ چې د ماشوم د پاملرنې ثبت شوي کسان پۀ کار کښې راوستلی شئ. د ماشومانو ثبت شوي پاملرونکي
  - وړتوب لري
  - د تاسو ماشومانو لۀ پاره يو خوندي چاپېريال وړاندې کوي پۀ دې چې هغوی پۀ قانوني توګه باندې مسوول وي
  - پۀ زياتره وخت کښې خوشحاله وي که چېرې تاسو غواړئ لږ وخت د هغوی سره تېر کړئ چې د هغوی پۀ اړه معلومات تر لاسه کولو موقع در ته ملاؤ شي او پۀ خپله وګورئ چې د تاسو د ماشوم پاملرنه پۀ څۀ ډول سره کېږي.
- حکومت به تاسو ته ځيني مرستې درکړی لکه دا چې تاسو کولای شي مرسته ترلاسه کړی کومې چې ستاسو د ماشوم د پاملرنې لۀ پاره د حکومت د کار کووني د ماليې باور (Working Tax Credit) پروسې لاندې ورکېدلی شي.( د نورو مالوماتو له پاره لاندی وګوري.)
- تاسو همدا راز کولی شي چې له ځانګړو تنظيمونو نه د مشوري غوښتنه وکړي ، لکه د يوازني مور يا پلار کورنی(One Parent Families)، کوم چې د يوازني مور يا پلار د مرستې کرښې (Lone Parent Helpline) ټيليفون 0800 0185 026 چلوی.
- کله چې تاسو د کاروبار د پيل کولو لۀ پاره ملاتړ غواړئ (ګام 9)، نو پۀ دې اړه د نورو معلوماتو لۀ پاره پوښتنه وکړئ.

© The Prince's Trust and the Refugee Council 2006

## په دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

- ← رضاکار کار کولو لهٔ پاره ملي مرکز (National Centre for Volunteering) www.volunteering.org.uk
- ← Reach www.volwork.org.uk
- ← د کډوالو کړنی (Refugee Action) www.refugee-action.org.uk
- ← د کډوالو کونسل (Refugee Council) www.refugeecouncil.org.uk
- ← RETAS www.education-action.org
- ← Timebank www.timebank.org
- ← رضاکار پرمختګ انګلېنډ (Volunteer Development England) www.vde.org.uk
- ← The Prince's Trust www.princestrust.org.uk

# ګام 6: ځائي کاروبار يا پۀ ټولنه کښې پۀ خپله خوښه سره کار کول

پۀ خپله خوښه سره کار کولو مطلب دا دی چې بې پيسو کار کول. پۀ خپله سيمه کښې د کاروبار يا ټولنيزې پروژې لۀ پاره بې پيسو کار کولو پۀ اړه فکر وکړئ. دا تاسو سره پۀ دې ډول مرسته کولې شي:

- تاسو به پۀ هغه کاروبار کښې تجربه تر لاسه کړی شئ کوم چې تاسو پيل کول غواړئ
- يو مشخص وړتوب يا مهارت به ښه کړي
- خپله انګليسي باندې به مشق وکړی شئ
- پۀ برېتانيې کښې د کار کولو تجربه څرګندولو سره به خپله سي وي ښه کړی شئ
- ورګرزوونه به تر لاسه کړئ. د تاسو سره کار کښې مل وګړي به پۀ خوشحالۍ سره تاسو لۀ پاره ورګرزوونه وليکي.

که تاسو يو پناه غوښتونکی (Asylum Seeker) کس ياست او لا تر اوسه پورې په انتظار کښې ياست چې آيا تاسو د پاتې کېدلو پۀ اړه اجازه (Leave to Remain) لرئ نو تاسو کولی شئ چې بې پيسو کار وکړئ.

په خپله خوښه کارو کولو مواقع موندنه

- د داسې يو کس څخه پوښتنه وکړئ چې تاسو ئې پېژنی او هغه کاروبار چلوي چې که تاسو د هغوی لۀ پاره بې پيسو کار کولی شئ.
- د خپل کاروباري اند پۀ اړه فکر وکړئ او پۀ خپلې سيمه کښې هم هغه ډول کاروبار سره اړيکې ونيسئ.
- معلوم کړئ ولې داسې کومې ټولنيزې پروژې شته چې هغو لۀ پاره تاسو بې پيسو کار کولی شئ.

## په دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

- د پیل کوونې اژانسونه کوم چې کاروباري روزنې وړاندې کوي د پرنس بسپنې (The Prince's Trust) د پیل کوونې په لاربنود 12 – د مرستې سرچینې – کښې لسټ شوي دي
- RETAS د کاروبار د پیل کولو لهٔ پاره کورسونه چلوي او د هغو وزګار کډوالو او پناه غوښتونکو لهٔ پاره ملاتړ وړاندې کوي څوک چې دلچسپي لري په (ا) خپل کاروبار پیل کولو کښې یا (ب) د کو اپرېټو سره (اکثره په لندن کښې) ونډه اچول www.education-action.org
- د کډوالو کونسل (Refugee Council) د برېتانیې د کار په بازار کښې د کار کوونې لهٔ پاره کډوالو ته وده ورکولو په اړه روزنه وړاندې کوي www.refugeecouncil.org.uk
- د ټولنې د کړنې شبکه (Community Action Network) په لندن کښې د کډوالو لهٔ پاره کاروباري روزنې وړاندې کوي www.can-online.org
- کاروباري اړیکه (Business Link) یو سرکاري تنظیم دی کوم چې وړو او متوسط مېچ والو کاروبارونو ته کاروباري وړاندیزونه ورکوي. دا د ځائې شبکو د لارې چلېږي. خپله ځائي شبکه دلته پیدا کړئ www.businesslink.gov.uk
- د ملګرو ملتونو د کډوالو اژانس (United Nations Refugee Agency - UNHCR) پروژه لري چې نوم ئې دی 'کډوال پر کرښه (Refugees Online') او داسې تنظیمونه لسټ کوي چې هغه هم کېدی شي د کار وړ وي www.refugeesonline.org.uk

# ګام 5: د کاروبار پۀ اړه څۀ روزنه تر لاسه کول

پۀ بريتانيې کښې د کاروبار پېل کولو کښې مرسته ورکولو لۀ پاره د روزنې بېلابېل کورسونه شته. د روزنې دغه کورسونه به:

- پۀ بريتانيې کښې خپل شخصي کار کولو پۀ اړه تاسو ته معلومات وړاندې کړي
- تاسو سره د خپل هنرونو او لياقتونو پېژندنې کښې مرسته وکړي
- درته د پېل کوونې بهير بيان کړي
- تاسو ته د کاروبار پېل کوولو لۀ پاره چمتو کېدل وړاندې کړي
- تاسو سره د کاروباري پلان په ليکلو کښې مرسته وکړي
- د ټېکس (ماليې)، VAT او ملي بيمې (National Insurance) لمبر پۀ اړه معلومات درکړي
- تاسو ته موقع درکړي چې د نورو داسې وګړو سره و وينئ او ورسره اړيکې ونيسئ څوک چې پۀ خپله هم شخصي کاروبار پېل کوي

کېدی شي تاسو اړ وئ چې پيسې ورکړي. خو دا کيدای شي چې يوه ښه پانګه اچونه وي ، که چيرې داسې وړتوبونه (مهارتونه) وی چې تاسو محسوس کوئ تاسو د خپل کاروبار له پېل کولو نه مخکښې بايد هغه پياوړي کړي. څو تنظيمونه کاروباري روزنه د کډوالو لۀ پاره وړاندې کوي. د کډوالو ځائي اژانسونه يا تنظيمونه کېدی شي چې د ستاسو د اوسيدنې سيمې ته نژدې ، د ځينو ځانګړيو روزنو پۀ اړه معلومات ولري.

© The Prince's Trust and the Refugee Council 2006

| څۀ نۀ دي کول پۀ کار | څۀ کول پۀ کار دي |
|---|---|
| يوازې د نورو وګړو څخه دا هيله مه کوئ چې هغوی به درسره مرسته کوي. په داسی حال کې چې د نورو خلکو ملاتړ ډير ضروری دی، تاسو اړ يي چې اندازه ولګوي چې ستاسو د کاروبار په تولو برخو کې څه تيريږي. | که کولي شي نو پۀ کورس کښې خپل ځان ثبت کړئ.که چيرې تاسو نه شي کولي نو خپله انګليسي ښه کولو له پاره تولی ممکنه غير رسمي لاری چاری په کار واچوی. په ښه کچه انګليسي به تاسو سره مرسته وکړی چې خپلواکه يي او د خپل کاروبار د برياليي کولو پۀ اړه چانسونو کښې ښۀ والی راولئ. |

**پۀ دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ**

← Learndirect www.learndirect.co.uk

← د نور پر وړاندې زده کړو لۀ پاره د تاسو ځائي پوهنځی

← ځائي د کارموندني مکتب (Jobcentre Plus) تاسو ته ښودلی شي چې د ESOL لۀ پاره ملاتړ چېرته شته دی www.jobcentreplus.gov.uk

← د کډوالو د وړاندیز او لارښووني يوکی (Refugee Advice and Guidance Unit) کډوالو ته وړانديز او روزنه وړاندې کوي www.londonmet.ac.uk/ragu/home.cfm

← د RETAS پروژې پۀ اړه روزنه وړاندې کوي www.education-action.org

← د کډوالو کونسل (Refugee Council) کاروباري انګليسي وړاندې کوي www.refugee-council.org.uk

← ځائي کتابتون

← د وګړو د مشورې بيورو(Citizens Advice Bureau) www.citizensadvice.org.uk

← د ځائي واکمنی کونسل (د زده کړې څانګه)

- د نور پر وړاندې زده کړو پوهنځي
- د بالغانو د زده کړو پوهنځي
- پوهنتونونه
- د خپلې خوښې او ټولنيز تنظيمونه
- د Learndirect پر کرښه مرکزونه
- د روزنې شخصي تنظيمونه

## کاروباري انګليسي

د نور پر وړاندې زده کړو ډېر پوهنځي د کاروباري انګليسي ټولګي وړاندې کوي، خو کېدى شي چې دې لۀ پاره تاسو ته بنايي پيسې ورکول وي. د تاسو د ځائي پروژو اژانس، ځائي کونسل يا واکمنۍ بنائي چې وکړى شي تاسو ته ووائي چې دا ډول ټولګي چېرته شته دى.

()په دي برخه کې کيداى شي نور ځايى تنظيمونه وي ، لکه د مثال پۀ توګه د کډوالو کونسل او د کډوالو د زده کړې او روزنې لۀ پاره مشاورتي خدمت (Refugee Education and Training Advisory Service - RETAS) کوم چې د کډوالو لۀ پاره د کاروباري انګليسي پۀ اړه کورسونه وړاندې کوي. وګوري چې کوم ستاسو پۀ سيمه کښې وړاندې کېږي.)

- په خپله ټولنه کې له هر هغه چا نه د مرستي غوښتنه وکړئ چې د هغه کاروبارى انګليسي د تاسو څخه ښه وي،
- د ژباړې او د خبرو د ژباړې خدمتونه (ځائي کونسل يا ټولنيز تنظيم) د اسنادو پۀ اړه ژباړه / مرسته کولی شي. کېدى شي د دې خدمت لۀ پاره تاسواړ وى چې پيسې ورکړي.

## ګام 4: خپله انګلیسي ښهٔ کولو لهٔ پاره مرسته و مومئ

تاسو له ضروري دي چې وکړی شئ پهٔ ورځنی او کاروباري ژبه کښې پهٔ ښه توګه سره تړاؤ لرلو جوګه وئ. دا ډیره ضروري او مهمه ده، د مثال په توګه د دغو لهٔ پاره:

- د کاروباري پلان لیکل،
- د خپل پور ورکوونکي سره خبرې اترې کول او /یا ویلیو ایډیډ ټیکس (Value Added Tax - VAT) لهٔ پاره ځان ثبت کول

دا ډیره مهمه ده چې تاسي په دې پوه شئ چې ستاسو د کاروبار په ټولو برخو کښې څ ۀ پیښیږي.

**مرسته چېرته نه تر لاسه کولی شئ**

د انګلیسي سبقونو ته عموماً د نورو ژبو ویئونکو لهٔ پاره انګلیسي (English for Speakers of Other Languages - ESOL) ویلی شي. د 2007 میلادي کال تر اګست میاشت پوری، ESOL د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره وړیا وړاندي کولی شي. د 2007 کال له اګست نه وروسته:

- که تاسو **د پاتې کېدلو اختیاري احازه** (leave to remain) لرئ (د مثال په توګه د کډوال حیثیت (refugee status)، انساني بنسټ باندې ژغورنه (humanitarian protection) او یا هم د پاتي کیدلو اختیاری اجازه (discretionary leave) بیکاره یې او مرستې تر لاسه کوي، تاسو به په وړیا توګه د ESOL څخه د ګټې اخیستلو وړ وی.
- **خو ټول تر 19 کلو پورته پناه غوښتونکي به د** انګیسی سبقونو لپاره پیسي ورکوي. کیدای شي ځینې داسې ځایی تنظیمونه وي چې وړیا او یا هم ارزانه کورسونه پر مخ بیایي.

ځایي کتابتون، د کډوالو اژانس، د کار موندنې مرکز (Job Centre) یا Learndirect به تاسو ته د هغو تنظیمونو په اړه معلومات درکړي کوم چې د تاسو په سیمه کښې ESOL وړاندې کوي چې دا پکښې شامل دي:

## د خپلې خوښې کار

د خپلو هغو ټولو کارونو معلومات ليکل، کوم چې تاسو بې لۀ پيسو کړي وي هم ګټور دی. د مثال په توګه، د ټولنې پۀ ځائي پروژې باندې يا پۀ کاروبار کښې کار کول ، د تاسو سره دخپلو هنرونو څرګندولو کښې د مرستې وړ ګرزېدلی شي.

| څۀ کول پۀ کار دي | څۀ نۀ دي کول پۀ کار |
| --- | --- |
| هغه هر څۀ وليکئ کوم چې تاسو بشپړه کړي وي يا مو تر لاسه کړي وي. د داسې چا لۀ پاره بې پيسو کار کولو پ ۀ اړه فکر وکړئ څوک چې تاسو پېژنئ. کېدی شي تاسو د هغوی څخه د ورګرزوونې لۀ پاره غوښتنه وکړئ. | که تاسو د خپلو زده کړو يا د کار کووني د تاريخ د ثبوت پۀ توګه هېڅ هم نۀ شئ وړاندې کولی نو تاسو څورېږئ مه. دا د ډېرو کډوالو لۀ پاره يوه عمومي ستونزه ده. |

### پۀ دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

- ځايي د کار موندنې مرکز (Jobcentre Plus)، تاسو ته د خپل کاروبار په اړه مشوره درکولی شی، او همدا راز کولی شی چې د سی وی مرستې پۀ اړه تاسو سره دې ويب سايټ ته لارښوونې کښې مرسته وکړی www.jobcentreplus.gov.uk
- انټرنيټ تاسو ته ډير ويب سايټونه مخی ته ږدی کوم چی د سی وی په اړه وړيا سلا مشوره ورکوی، لکه د BBC /www.bbc.co.uk/radio1/onelife/work/index.shtml?cvs او يا هم www.workthing.com او يا هم /http://jobsadvice.guardian.co.uk
- پوهنتونونه هم اکثر په خپل ويب سايټ کښې د سی وی د ليکلو له پاره مشورې وړاندې کوی.

© The Prince’s Trust and the Refugee Council 2006

کوي. تاسو له پۀ کار دي چې خپل بریلیکونه وړاندې کړئ او کېدی شي چې تاسو د دې لۀ پاره پیسې هم ورکړئ.

- که تاسو د خپل وړتوبونو بریلیکونه نۀ لرئ، نود خپلې زده کړې تاریخچه ولیکئ او د خپل د پېل کولو لۀ پاره د ملاتړ تنظیم څخه سلا و غواړئ (ګام 9)، که له تاسو نه د بریلیکونو غو ښتنه وشي.

| |
|---|
| یادونه: په داسې حال کې چې د زده کړې تاریخ ګټور دی، تاسو اندیښنه مه کوی که چیری ستاسو وړتوبونه کم وی. دا ستاسو کاروباری وړتوب دی چې د کاروبار د پیل کولو اژانسونه پام به ځان ته ور اړوی. |

## د کار کوونې تاریخ

خپل هغه ټول کارونه د نېټو لۀ لارې پۀ ترتیب سره ولیکئ کوم چې تاسو کړي وي او د دغو کارونو پۀ اړه تفصیل ورسره ولیکئ. دا د تاسو د کار کوونې تاریخ دی. دا به دغه څرګندوونه وکړي چې تاسو د کاروبار پیل کولو لۀ پاره تجربه لرئ که نه. که تاسو د کاروبار پیل کولو پۀ اړه مخکښې نه څۀ تجربه لرئ، نو د دې خبرې پخلی وکړئ چې تاسو هغه پۀ څرګنده ډول سره وښايئ.

- پۀ برتانیه کښې، پۀ عمومي توګه سره تاسو له به پۀ کار وي چې دوه ورګرزوونې (references) هم وړاندې کړئ. ورګرزوونه یو لنډ لیک وي کوم چې د تاسو د یو پخواني کار ورکوونکي لۀ اړخه لیکل شوی وي چې د دې خبرې پخلی کوي چې تاسو څۀ کول او تاسو څومره ښۀ کار کولو.
- دا کله کله مشکل وي که چېرې د تاسو پخواني کار ورکوونکي پۀ بل هېواد کښې وي یا د هغو سره اړیکې نیول مشکل وي. د کار سره سمه تجربه تر لاسه کول او ښائي ورګرزوونه تر لاسه کولو لۀ پاره یوه لاره دا ده چې تاسو د یو ځائي کاروبار لۀ پاره خپل خوښي پۀ توګه کار وکړئ (لاندې او ګام 6 وګورئ).
- که د تاسو د کار کوونې پۀ تاریخچه کښې تش پاتي (gaps) وي، نو د وړاندیز (ګام 9) لۀ پاره غوښتنه وکړئ کله چې تاسو د کاروبار پیل کولو د مرستندوی تنظیم څخه ملاتړ تر لاسه کوئ.

# ګام 3: خپله سي وي (CV) جوړول

سي وي (د وړتوبونو څرګندليک) د تاسو د کار کوونې او د زده کړو ريکارډ وي. پ
ۀ برېتانيې کښې هر کس دا سند جوړوي کله چې هغه کار موندل يا د کاروبار پيل کولو
ملاتړ غواړي. لاندې ځينې وړانديزونه ورکړې شوى دى چې. ستاسو سره به د سي
وي په ليکلو کښې د مرستې وړ وګرزي.

کيداى شي چې تاسو د خپلې زده کړې او يا هم کارکولو په لړى کى تشه ولرى. دا
ضرورى نه ده چې د ستونزى سبب شي، که تاسو وکولاى شئ چې په خپله سي
وي کې دا وښايي چې تاسو هغه مهارتونه او تکړه توب چې د کاروبار د پيل کولو
لپاره اړين دى،لکه بودجه ټاکل (دخرڅ او ګټې اټکل) ، بازار موندنه، د خلکو اداره
کول، لارښوونه له ځانه سره لري.

تاسو کولاى شئ چې له لاندې کسانو نه مرسته ترلاسه کړى:

- ملګري او د کورنۍ غړي، کومو چې خپله سي وي په خپله ليکلې وي.
- د مسلک او حرفې د مشورې ورکولو اداري، خو کيداى شي تاسو د دې لۀ پاره پيسې هم ورکړئ.
- ځايي د خپلې خوښې او يا د کډوالو اژانسونه کيداى شي چې وړيا مشوره درکړي.

### د زده کړې تاريخ

خپلې زده کړې (ښوونځى، پوهنتون، پوهنځى) او/يا روزنې، چې پکښې هر ډول
وړتوبونه هم شامل دي، د اخيستلو د نېټو پۀ ترتيب کښې وليکئ.

ځينې وختونه له تاسو نه د بريليکونو غوښتنه کيږى تر څو ستاسو وړتوبونه کره کړئ

- **که تاسو خپل بريليکونه له ځانه سره لري** ،او غواړئ چې د خپل کورني هېواد څخه تر لاسه کړي شوي وړتوبونه پۀ برېتانيه کښې ومنل شي، نو برېتانيې لۀ پاره د ملي منلو د معلوماتو مرکز (National Recognition Information Centre for the United Kingdom - UK NARIC) دغه خدمت وړاندې

هر کله چې تاسو په رسمي توګه سره دا يادښت تر لاسه کړئ چې تاسو د پاتې کېدلو لهٔ پاره اجازه (ILR) لرئ، نو بيا تاسو د خپل کاروبار پيل کولو په اړه فکر کولی شئ.

| څهٔ کول په کار دي | څهٔ نهٔ دي کول په کار |
|---|---|
| کوښښ وکړئ او د دې خبرې پخلی وکړئ چې د کاروبار پيل کولو نه وړاندې تاسو لړ نه لړ تر 3 کلونو پورې د ننوتلو / پاتې کېدلو لهٔ پاره اجازه لرئ. دا ډول تاسو به وکړی شئ چې د پور اخيستلو جوګه شئ، او بيا د کډوالتوب (مهاجرت) په مسئلو کښې بوخت کېدلو نه وړاندې خپل کاروبار پيل کړئ. | په هغه وخت کې هيڅ کله هم خپل کاروبار مه پيل کوئ کله چې د تاسو د ننوتلو / پاتې کېدلو اجازه ختمېدلو ته ور نږدې وي. ممکن دي چې په دغه مرحله کښې به تاسو د پيل کولو لهٔ پاره ملاتړ تر لاسه نهٔ کړی شئ او پور اخيستل به نور هم مشکل وي. |

## په دې اړه نور معلومات چېرته تر لاسه کولی شئ

که تاسو د خپل د کډوالتوب (مهاجرت) درېځ په اړه هر ډول پوښتنې لرئ نو تاسو دغو ويب سايټونو ته تللی شئ:

- ← د کډوالو کونسل (Refugee Council) www.refugeecouncil.org.uk
- ← د مهاجرت لهٔ پاره مشاورتي خدمت (Immigration Advisory Service) www.iasuk.org.uk
- ← د کډوالو قانوني مرکز (Refugee Legal Centre) www.refugee-legal-centre.org.uk
- ← د کډوالتوب (مهاجرت) د مليت څانګه (Immigration Nationality Department) www.ind.homeoffice.gov.uk
- ← د وګړو د مشورې بيورو (Citizens Advice Bureau) www.adviceguide.org.uk/index/your_rights/immigration
- ← د کارموندنې فورم (Employability Forum) www.employabilityforum.co.uk

ii. د پاتې کېدلو اختياري اجازه (Discretionary Leave to Remain)
(د 3 کلونو يا د دې نه لږ مودې لۀ پاره ورکېدلی شي. د اګست 2005 ميلادي
کال څخه راهيسې به کېسونه د 3 کلونو وروسته بيا کتلی شي او کېدی شي چې
تاسو ته غزوونه درکړی شي يا در نۀ کړی شي. که داسې پرېکړه وشي چې
تاسو لۀ دې راهيسې نورې ژغورنې ته اړتيا نۀ لرئ نو کېدی شي چې تاسو
بېرته ولېږل شئ. تاسو کولی شئ چې ILR تر لاسه کړئ که چېرې تاسو ته پۀ
برېتانيې کښې تر 6 کلونو پورې د پاتې کېدلو اجازه درکړی شي)

یاد وساتئ: پۀ رسمي توګه سره د پاتې کېدلو لۀ پاره موقتي یا دايمی اجازه ورکوولو
مطلب (پۀ عمومي توګه باندې) دا وي چې تاسو د کار کولو لۀ پاره اجازه لرئ او
عمومي (عادي) ګټې تر لاسه کولی شئ.

تاسو څنګه معلومولی شئ چې ايا تاسو د کار کولو اجازه او ننوتلو / پاتې کېدلو لۀ
پاره اجازه لرئ؟ خپل لاندېني اسناد وګورئ:

- د کډوالتوب (مهاجرت) سند يا
- د کورنيو چارو وزارت (Home Office) لۀ اړخه رسمي ليک چې پکښې تاسو ته د ننوتلو / پاتې کېدلو لۀ پاره اجازه درکړئ شوئ وي.

دا ليکونه به تاسو ته وښائي چې که تاسو د کار کولو پۀ اړه اجازه لرئ که نه او دا
چې د تاسو د ننوتلو / پاتې کېدلو لۀ پاره اجازه تر څومره مودې پورې ده. که چېرې
دا پۀ ختمېدو باندې وي مونږ تاسو ته دا وړانديز درکوو چې د خپل کاروبار پيل کولو
نه وړاندې دا خبره هواره کړئ. تاسو کولی شئ چې:

- لاندېني ورکړې شوې تنظيمونو کښې کښې د کوم يو سره د مرستې لۀ پاره اړيکی ونيسئ. دوی به تاسو ته وښائي چې تاسو څۀ کولو ته اړتيا لرئ.
- د کورنيو چارو د وزارت ته يو ليک ولېږئ.
- د کورنيو چارو وزارت ته ټېليفون وکړئ او ورڅخه پوښتنه وکړئ چې د تاسو د غوښتنليک پۀ اړه معلومات تر لاسه کولو کښې به څومره وخت ونيسی.

# ګام 2: د دې پلټنه کول چې که تاسو د کاروبار پېل کولو لهٔ پاره قانوني وړتيا لرئ

د قانون د مخې تاسو ته ورته اړتيا ده چې خپل کاروبار پېل کړئ که چېرې تاسو دا ولرئ:

→ د کار کولو اجازه او پهٔ برېتانيې کښې د پاتې کېدلو / برېتانيې ته د ننوتلو اجازه. د پاتې کېدلو اجازه پهٔ څو مختلفو لارو سره ورکولې شي:

## 1. که تاسو ته د کډوال درېځ در کړ شوی وي

i. د اګست 2005 میلادي کال نه وړاندې، که تاسو د کډوال درېځ (Refugee Status) تر لاسه کړی وي نو تاسو به د پاتې کېدلو لهٔ پاره ناټاکلې اجازه (Indefinite Leave to Remain (ILR)) ولرئ او پهٔ برېتانيې کښې پهٔ دايمي توګه د پاتې کېدلو وړتيا لرئ.

ii. که تاسو د اګست 2005 میلادي کال نه وروسته د کډوال درېځ تر لاسه کړی وي نو د پاتې کېدلو لهٔ پاره د تاسو اجازه موقتي ده – تر 5 کلونو پورې. کېسونه به د 5 کلونو نه وروسته بيا کتلی شي، او که د تاسو کورني هېواد کښې لا هم ستونزې وي نو کېدی شي چې تاسو ته پهٔ اجازه کښې غزوونه درکړی شي يا د پاتې کېدلو لهٔ پاره ناټاکلې اجازه (ILR) درکړی شي، پهٔ بل صورت کښې کېدی شي چې تاسو به و ايستل شئ او بېرته ولېږل شئ.

## 2. د ننوتلو / پاتې کېدلو لهٔ پاره موقتي اجازه، يا

i. انساني بنسټ باندې ژغورنه (Humanitarian Protection)(د اګست 2005 میلادي کال نه وړاندې، دا د 3 کلونو پورې ورکېدلې شي. د اګست 2005 میلادي کال څخه، دا د 5 کلونو پورې ورکېدلی شي. د تاسو کېس به د دې پهٔ پای کښې بيا کتلی شي. که بيا هم ستاسو پهٔ هېواد کښې ستونزه وي نو کېدی شي چې ستاسو پهٔ ژغورنې کښې غزوونه يا ILR تر لاسه کړئ. که هيڅ ډول ستونزه هم نهٔ وي نوکيدای شي تاسو بېرته ولېږلی شئ) يا:

به د دفتر او ګودام انتظام تر لاسه کوي او مارکس به پلورنتون چلولو ته دوام ورکړي.
د ټام سپنسر پۀ مرستې سره، مارکس وکړی شول چې پۀ مانچسټر، برمنګهم، ليورپور،
ميډلزبرو، شېفيلډ، برسټل، هل، سندرلېنډ او کارډيف کښې پلورنځي پرانيزي.

تر 1897 ميلادي کال پورې، د Marks & Spencer کاروبار پۀ شپږ دېرش ځانګو
باندې مشتمل وو. پۀ 1903 ميلادي کال کښې Marks & Spencer يو محدود شرکت
جوړ شوی او پۀ هغۀ کال کښې وروسته ټام سپنسر د يو شتمن وګړي پۀ توګه د کاروبار
څخه بېل شوی. مائيکل مارکس خپل کاروبار ته وده ورکولو کښې ځان بوخت وساتلی او
د 1907 ميلادي کال د ديسمبر پۀ 31مه نېټه باندې مړ شوی، چې تر هغه وخت پورې ئې
د برتانيې يو ډېر نامتو کاروبار جوړ کړی وو.

دا خبره څۀ کوم اهميت نۀ لري چې د تاسو کاروبار لوی دی يا ورکوټی، د يو پلورنتون
ستال څخه د شمېرپوهنې تر شرکت پورې، دا يو برياليتوب ګرزېدلی شي. تاسو د کوښښ
کولو بشپړ حق لرئ، پۀ دې که چېرې پۀ کښې بريالی شئ، دا به نه يوازې د تاسو لۀ پاره
ګټور وګرزي، بلکې د ټولې پراخې ټولنې لۀ پاره به هم ګټور وي. په عين حال کې، دا
بنه خبره ده چې اندېښنې ولرئ او لـه هغو ستونزو نه خبر وی چې کيدای شی تاسو د خپل
کاروبار په پيل کولو کې ولري. تاسو ته پۀ کار دي چې د خپلو نظرونو او مهارتونو
په اړه ، د کاروبار د پيل کولو نه مخکښې ،په احتياط سره غور او سوچ وکړی ، ځکه
شخصي کاروبار پيل کول د هر چا لپاره هم مناسب نه دی. دا لارښود به تاسو سره پۀ دی
کښې مرسته وکړی او د مرستې او ملاتړ وړاندې کولو ځايونه به پۀ نښه کړي.

- لـه هِغه ادارو څخه چې د کاروبار د پيل کولو په اړه په مرسته کولو کښې ځانګرتيا لری
- ملګرو، کورنۍ يا د تاسو د ټولنې غړو ته ، چا نه چې تاسو وړانديز تر لاسه کولی شئ

تاسو لـه پۀ کار وي چې لـه ټول ملاتړ نه ګټه واخلې تر څوستاسو سره د کاروبارد
برياليتوب پۀ لوري بوتللو کښې مرسته وکړي.

| څۀ کول پۀ کار دي | څۀ نۀ دي کول پۀ کار |
|---|---|
| څنګه څنګه چې تاسو دغه لارښود لولئ نو د هغو ټولو وګړو او تنظيمونو يو فهرست جوړوئ څوک / کوم چې تاسو سره د تاسو د کاروبار پۀ بېلابېلو اړخونو کښې مرسته کولی شي. | کله هم داسې فکر مه کوئ چې تاسو يوازې ياست. ستاسو د کاروبار برياليتوب پۀ تاسو پورې اړه لري، خو ستاسو د مرستې لۀ پاره د تاسو خوا وشا کښې خورا ډېر ملاتړ هم شته. |

# ګام 1: زړه ورتوب او اعتماد لرل

کډوال او هجرت کوونکي بریتانیې ته د سلونو کلونو څخه راغلي دي، او د بریتانیې اقتصاد ته یې ګټه ور رسولې ده. ځینې هغه کاروبارونه چې دوی پیل کړي دي او د دوی ځینې فکرونه، ډېر کامیابه وه چې اوس د ملت د ورځني ژوند یوه برخه ګرځیدلي ده.

د مثال پهٔ توګه، آیا تاسو ته دا معلوم وو ... ؟

- د'کب او الوګانو د کترو' روایت د هجرت کوونکو سره راغلی. پهٔ 1860 میلادي کال کښې د ختیځې اروپا څخه راغلي جوزف مالن د لندن پهٔ ایسټ اینډ کښې لومړنۍ د کب او الوګانو د کترو پلورنځی پرانیستلی.
- مونسیئر ډیلائټي، چې د فرانسوي اووښتون څخه یو کډوال وو، هل ته تر 200 کلونو نه هم وړاندې راغلی وو، او د شمېرپوهنې (محاسبې) کاروبار ئې پیل کړی. د ده لمسي دا د هېواد د ټولو نه غټ کاروبارونو کښې ور ګډ کړی ، او نن، دا پهٔ نړیواله کچه د یوه نامتو شرکت Deloitte and Touche پهٔ نوم یادېږي.
- الیک اسیګونیس، د ترکیې څخه راغلی کډوال ، انګلینډ ته په 1922 میلادي کال کښې له کورنۍ سره یو ځای راغلی. هغه یو موټر طرح کوونکی وو، او بریتانوي موټرونه ،'موریس مائنر' او 'مینئ' یې ټولې نړۍ ته ور وپیژندل.

**Marks & Spencer**

مائیکل مارکس پهٔ 1859 میلادي کال کښې د روسیې پهٔ سلونیم ښار کښې زېږدېدلی وو. د یوه زلمي وګړي پهٔ توګه، مارکس انګلینډ ته کډه وکړه. د کاروبار نهٔ لرولو سره او ورسره دا چې انګلیسي ژبه هم ئې نهٔ شوه وېلی، مارکس لیډز ته ستون شوو ، چېرته چې یو شرکت د بارن پهٔ نوم باندې وو چې کډوالو ته به ئې کار ورکولی. هم دا ډول، مارکس دومره پیسې و ګټلې چې د لیډز پهٔ پرانیستي پلورنتون (مارکیټ) کښې خپل سټال جوړ کړی. د سټال سره پر څنګ یو غټ پوسټر وو چې دغه ټکي پري لیکلي وو:'د بیې پوښتنه م ۀ کوئ، دا یوه پیني دهٔ پهٔ راتلونکي څو کلونوکښې، مارکس پهٔ یورکشائر او لنکشائر کښې په سرېټې مارکیټونو کښې دغه ډول د پیني سټالونه پرانیستل.

پهٔ 1894 میلادي کال کښې، مارکس پرېکړه وکړه چې هغوی د خپل کاروبار پراختیا کښې مرستې لهٔ پاره یوه ملګري ته اړتیا لري. او دا هغه وخت وو چې ټام سپنسر د دهٔ سره ملګری شو. سپنسر لهٔ څهٔ مودې څخه د مائیکل مارکس په پرمختګ باندې نظر ساتلو. هغوی د مارکس پهٔ کاروبار کښې د نیمایي ونډې تر لاسه کولو لهٔ پاره، 300 بریتانوي پاونډونه یوه ښه پانګه اچونه وګڼله. پهٔ دې خبرې باندې دوی موافقه شول چې سپنسر

## محتويات

# د پېل کوونې لۀ پاره چمتو کېدنه

دلته لس ګامونه ورکړل کېږي کوم چې تاسو سره د خپل کاروبار پېل کولو لۀ پاره چمتو کېدلو کښې مرسته کوي.بهٔخؤت.


1. زړه ورتوب او اعتماد لرل 3
2. دې پلټنه کول چې آيا تاسود کاروبار پېل کولو لۀ پاره قانوني وړتيا لرئ 5
3. خپله سي وي (CV) جوړول 8
4. د خپلې انګليسي بې ښۀ کولو لۀ پاره مرسته غوښتل 11
5. د کاروبار پۀ اړه څۀ روزنه تر لاسه کول 14
6. ځايي کاروبار يا پۀ ټولنه کښې پۀ خپله خوښه سره کار کول 16
7. د کوچنيانو د پاملرنې پۀ اړه انتظام کول 18
8. خپلې مالي سرچينې تنظيمول 20
9. د کاروبار پېل کولو لۀ پاره مسلکي ملاتړ تر لاسه کول 23
10. د مرستې لۀ پاره نورې سرچينې 26

**This booklet is for guidance only.**

This project is funded by the Phoenix Fund and the Small Business Service of the Department of Trade and Industry.

This booklet is also available in the following languages: Amharic, Arabic, Dari, Farsi, French, Pushto, Kurdish Sorani, Portuguese, Somali, Swahili, Tigrignia and Turkish.

Refugees into Business is a project managed by Refugee Enterprise Partnership, lead by the Refugee Council.

The Refugee Enterprise Partnership consists of the British Refugee Council, Refugee Action (RA), Refugee Women's Association, Social Enterprise London, the Prince's Trust, Community Action Network, and Education Action International.

With thanks to the Language and Literacy Unit+ (LLU+), London Southbank University, who has helped ensure the text is accessible to people who are at least at entry level 3 in their reading of English.

www.refugeesintobusiness.org.uk/translated_ten_steps

© The Prince's Trust and the Refugee Council 2006

Supported by PHOENIX FUND

Pushto

آیا تاسو بی کاره یاست؟

آیا تاسو پټ قوت او
استعداد لری؟

آیا تاسو غواړی چې خپل شخصي
کاروبار پیل کړي؟

# د پیل کووني لهٔ پاره چمتو کېدنه

کېدوال کاروباریانو ته ملاتړ ورکوونه
د کېدوالو لهٔ پاره د پیل کووني لارښود

REFUGEES INTO BUSINESS

Refugees into Business
The Prince's Trust and the Refugee Council 2006 ©